# افغانستان آزاد – آزاد افغانستان

AA-AA

چو کشور نباشد تن من مبـــاد بدین بوم و بر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم از آن به که کشور به دشمن دهیم

www.afgazad.com afgazad@afgazad.com

| Literary - Cultural | ادبی - فرهنگی |
| --- | --- |



صمد بهرنګي
ژباړه: څرك


# د شناخت په هکله یو څو خبرې(لومړی برخه)
# (تاریخ او ادبیات)

**لړلیک**


د نړۍ پیژندنه
د پخواني علومو او نوي پوهې پر پوله
اسکولاستیک، د منځنی پیړۍ او تحجر فلسفه
لیوناردو داوینچي (۱۴۵۲-۱۵۱۹)
پیېر روسو
ویلیام هاروی
کلیسا، د نوي ستور پیژندني په وړاندي خند
جوردانو برونو
ځمکه او آسمان د یو موټي خرافاتو په منګولو کی
تېکو براهه
کپلر
ګالیله
د شعور، فکر او ژبې په اړه څو لنډې خبرې
د لمر جوړښت د کتاب ارزونه


## د شناخت په هکله یو څو خبرې

### د نړۍ پیژندنه

د پوهې ځواک بې له شکه ستر دی. انسان چې په پوهې مسلح وي، نه ماتیدونکی دی.

آیا پوهه پخپله لاس ته راتلی شي؟ کیدی شي ځیني کسان ګوت نیونه وکړي چې دا هم شوه پوښتنه. که چیرې موږ پوه نه شو چې نړۍ کې څه تیریږي، نو په نړۍ کې کار او ژوند نشو کولی. که چیرې علم ونشي کړای یو شئ حصول کړي، نه یوازې دا چې د انساني نبوغ حیرانونکي آثار لکه سپوږمکی او سپوږمی مزلي توغندي او نور به د لاسرسی وړ نه وي، بلکي آن ترټولو کوچني او ترټولو ساده کارونه به هم زموږ په وس کې نه وي.

خو بیا هم دنیا کې ځینې کسان شته چې وایي انسان نشي کولی د نړۍ په هکله کره او سمه عقیده ولري؛ په بلې وینا، موږ نشو کولی نړۍ وپیژنو. بده به نه وي چې پوه شو د دې اند جرړې له کوم ځایه خړوبېږي.

پخوانیو به ویل چې پوهه رڼا ده خو ټول کسان رڼا نه خوښوي. ځکه چې د انساني عقل د رڼا د وړانګو د څرک په نتیجه کې د نړۍ مشاهده پدې مانا ده چې هلته زیات شیان ووینو، د هغو په هکله مو پوهه ډیره شي او چمتو شو چې ډیر کارونه سر ته ورسوو. همدا ټکي د تورتم د دوام غوښتونکي په ډار کې اچوي.

ځکه کله چې انسان ځان له ټولو ټولنیزو او سیاسي قیودو او نور هغه بندونو څخه آزاد کړي چې هغه بردګۍ ته کاږي، او د خپل ځان څښتن شي، تر هر څه د مخه به تفوق طلبي او د بردې په څیر ژوندکول له منځه ویسي.

دقیقاً همدلته دی چې ((کلیسا)) د پوهې د ونې او انسان تر منځ چې لاس یې د پوهې لور ته غزولی دی، ودریږي. ((کلیسا)) په زغرده وایي چې د ربښتني پوهې آن درشل ته رسیدل هم زموږ په شان عادي او ګناهکارو خلکو ته شونی ندی. کلیسا په وار وار موعظه کړې چې پوهه ستر رمز دی او کلی یې عادي خلکو سره نشته.

نو ((عادي او ګناهکار خلک)) دې باید څه وکړي؟ کلیسا وایي: خپل عقل دې خوار او سپک وګڼي، یوازې دې باور ولري او دعا دې کوي. دا د هغوی ځواب دی. مړ دې وي اند او تعقل! مرګ پر پوهې او رڼا! کلیسایي او اسکولاستیک طرز تفکر له دې پرته بله معنی نلري.

هغوی وایي د دنیا ربښتونی شناخت شونی ندی او پداسې کارونو کې دخالت، ستره ګناه ده. د دې خبرو په بیان کې یو شمیر ایده الیست فیلسوفان د کلیسا ملاتړي دي. ایده الیستان پدې عقیده دي چې نړۍ د پیژندلو وړ نده. دې فیلسوفانو ته ((اګنوستیک)) (لاادري- نه پوهیږم) وایي. اګنوستیک یوناني کلمه ده چې دوه برخې لري: ((ا)) یعني ((هیڅ)) او ((ګنوسیس)) یعني پوهه. یو اګنوستیک عقیده لري چې: زه نه پوهیږم چې یو خارجي واقعیت ربښتیا هم په دنیا کې موجود دی یا یوازې دا چې زما حواس یې منعکس کوي یا په تصور کې یې راولي. زه وایم چې د دې امر د پیژندو لاره نشته.

هیوم او کانت د اګنوستیک تفکر وتلي استازي ول. کانت معتقد و چې ((انسان د هستي په معرفت لاسبری نشي موندلی او باید د حادثاتو او پیښو په هکله یوازې په بحث بسیا وکړي.))* هغه به ویل چې د شیانو واقعیت زموږ نه داسې پټ دی لکه چې د یو سرتړلي صدف په منځ کې چې وي. نو سر مو د هغوی په دننه ماهیت نشي خلاصیدی او یوازې کولی شو د هغوی ظاهري صورت څرګند کړو.

د بیلګې په توګه انسان د دې وس نلري چې پوه شي لمر او نور ستوري له کومو موادو څخه جوړ شوي او د هغوی د رڼا او انرژي سرچینه څه شی دی. خو موږ پوهیږو چې علم د دې ادعا ناسموالی ثابت کړی دی.

(د لمر جوړښت، په فارسي ژباړل شوي کتاب ته رجوع وشي)

اګنوستیکان وایي چې موږ یوازې د خپلو حسي غړیو (سترګو، غوږونو او ...) له لارې اشیاؤ سره تماس حاصلو او زموږ حسي غړي موږ غولوي او تیر باسي مو.

مثلاً که یو پنسل په اوبو کې دننه کړو، هغه به مات وګورو پداسې حال کې چې واقعیت داسې یو څه نه دی. نو موږ نشو کولی پر هغه څه باور وکړو او واقعیت یې وګڼو چې حسي غړي یې راته وایي.

آیا ربښتیا همداسې ده؟

انسان چې د اګنوستيکانو خبرو ته غوږ ونيسي کيدی شي ځان سره ووايي چې انسان يوازې بايد عاجزه کښيني او خپلو شاوخوا شيانو ته ځير شي؛ خو انسان يوازې د طبيعت ننداره چې ندی. انسان نوښتګر او فعال موجود دی. د خپل کار او هاند او عملي فعاليتونو سره دی چې د خپلو حسي غړيو د موندنو په قطعيت او واقعيت يې ايمان راوړی دی او کولی شي د اشياؤ جوهر او منځ ته نفوذ وکړي او د مطالعې او ځيرنې سره د طبيعي پديدو تل ته ورسيږي. په پورتنی بيلګه کې کافي دی چې پنسل له اوبو راوباسو او باور وکړو چې مات ندی.

څرنګه چې څرګنده شوه دا پخپله ژوند او عمل دی چې بايد تصميم ونيسي آيا کولی شي نړۍ وپيژني او د هغې په منځپانګې مو سر خلاص شي، که نه. د ګټور کار او فعاليتونو له لارې دی چې انسان د خپل شاوخوا دنيا جوهر ته لاره مومي او هغه توضيح کوي.

نو د دنيا او د هغه د پديدو پيژندنه شوني ده او له پرله پسې لټون او تجربې او مشاهدې پرته بله لاره نشته. په بل عبارت، هغه پوهه چې انسان يې د خپلو حسي غړيو د پر له پسې ځيرنو له لارې حاصلوي، واقعيت دی او پرې باور کولی شي.

اوس دا پوښتنه راولاړيږي چې د نړۍ، طبيعت او ټولنې پيژندنه به د انسان د کار کومه غوټه پرانيزي؟ او څه اړتيا يې ده چې د هغوی په قوانينو پوه شو؟

**************************

وايم چې طبيعت، ړوند او وحشي دی. منظور مې دا دی چې هر څه او هر څوک ورته يو شان دي. د هيڅ لحاظ او د هيڅ شي خاطر نکوي. مثلاً زلزله يا اورشيندونکي غرونه، بډای او بيوزلي، راستکار او بدکار او بادين او بې دين يو شان وژني. طبيعي پديدې په دود او دستور او اخلاقياتو او شرع او عرف او پوهنې او روزنې نه پوهيږي. طبيعت تل وحشي دی. آتشفشان، سيل او بريښنا او باد او باران نن په همغه اندازه وحشي او ويجاړونکي دي څومره چې په د تاريخ دمخه پېړ کې ول. د طبيعت وسله هغه وخت شنډيږي چې وپيژندل شي.

نبايد و انګيرو چې طبيعت هرج و مرج غوښتونکی دی او طبيعي پديدې د هيڅ نظم او قانون تابع ندي او بنسټ يې پر تصادف اېښودل شوی. تر ټولو کوچنی طبيعي پديده (او همدا شان ټولنيزه پديده) د علت او قانون تابع او د معين او تغيير نه منونکي نظام لاندې ده. دا د اوبو قانون او خاصيت دی چې د معينو شرايطو لاندې د تودوخې سل درجو کې وخوټيږي او په صفر درجه کې کنګل شي. له هغې ورځې چې په پخوا زمانو کې شرق بارانونه ووريدل او د ځمکې بې انسانه ژورې يې ډکې کړې تر نن پورې چې د باران څاڅکي د آسمانڅکو ودانيو او د انسان د لاس پر نورو زرګونو حيرانونکي پنځونو وريږي، د اوبو د بخار تراکم تل د ځمکې د سوړ جو په ارتفاعاتو کې باران توليد کړی دی. دا يو بې استثنا قانون دی.

د يوې وړې چينې له خوټيکيدو نه نيولې د راديواکتيو موادو تر تجزيې او فعل او انفعالاتو او پيچلې آلې ترکيباتو او د حيه اجسامو تکامل او د سترو سيارو د جاذبې ځواك انرژي او د ژويو د بدن حيرانونکيو کړو وړو پورې ټولې طبيعي پديدې جبراً د خپل بې ګذشت او ځانګړي قانون تابع دي. له کيميا او فزيک نه نيولې تر ژوندپوهنې او نجوم او ټولنيزې پوهې او د کوسموګنې (د ستور پيژندنې هغه رشته چې توجه يې د سماوي

اجرامو او لمریزو منظومو په اړه بدلون او د ستورو د جوړونکي مادي د حرکت اړوند مسئلو باندې ده)*
*په شان نوې پوهې پورې د علم ټولې ګڼې رشتې همدا ټکی تاییدوي.
البته طبیعي قوانین له بشر نه خپلواک او د هغه له ارادې نه پرته حکم چلوي. دلته شوني ده چې دې ناسمې پایلې ته ورسیږو چې: نو انسان تل د طبیعت د قانون اسیر او مجبور دی. خو بې له ځنډه باید زیاته کړو چې انسان تر هغه وخته اسیر او مجبور دی چې د طبیعت قوانین یې نه وي پېژندلي او د هغوی د عمل په قلمرو یې سر خلاص شوی نه وي.
یوه بېلګه راوړم: لومړني انسانان سخت ناپوه ول. ویلی شو چې هیڅ یو یې د طبیعت قوانین نه وو پېژندلي. نوځکه تل په کړاو اخته ول. یو ناځاپه به یخني (البته د هغوی په ګمان ناځاپي) راتله او ژامي به یخنی ګړبولي او په سرې هوا کې به لړزیدل. ناځاپي به هوا توده شوه او جل به ووهل. او ډیرې نورې ناځاپي بلاګاني (!) به پرې له آسمان یا ځمکې راتللي او یوه شیبه به یې انسانان په کراره نه پرېښودل. وروسته یې پام شو چې یخني او ګرمي د کال په ټاکلو مهالونو کې په تناوب راځي او هیڅ هم ناځاپي ندي او ځانګړی قانون لري. د اوړي او ژمي د قانون په پېژندلو سره انسان وتوانیدو په وخت ځانته سرپناه او پوشاک او مناسب خوراک چمتو کړي او پدې ترتیب د یخنی او ګرمی هغه ناځاپي بلا ور ته یو عادي او بې ضرره شی شو.
بله بېلګه:د ځمکې جاذبه ځواک جبراً هرڅه د ځمکې لورته راکاږي: انسانان د دې قانون او د هغه د عمل د ډګر په پېژندني او د هغې د عکس په لور د ځواک په ایجادولو سره، جاذبه ځواک شنډوي او الوزي.
د برېښنا د رڼا ایجاد او د اختراعاتو ګڼ ډولونه او د کرهنیزو پیداوارو په ډیروالي او لاډیر تولید کې حیرانونکي پرمختګونه ټول د طبیعت د ړندو قوانینو په پېژندلو او د هغوی په کارولو کې ریښه لري.
هګل، د المان وتلي فیلسوف به ویل چې ((جبر)) تر هغې پورې ړوند دی چې مفهوم شوی نه وي. کولی شو پر دې وینا دا هم ورزیاته کړو چې د انسان رښتونی ((اختیار)) او ((ازادي)) پدې کې نغښتې ده چې پر طبیعت او ټولنې واکمن قوانین وپېژني.
پر طبیعت لاسبرې او تسلط د هغه د پېژندلو له لارې شونی دی. د طبیعت او ټولنې د قوانینو پېژندنه بشر سره مرسته کوي چې هغه په خپل عملي فعالیتونو کې وکاروي او پر هغوی برلاسي او مسلط شي.
کله چې یو قانون په آګاهانه توګه وکاروو او په هکله یې پوه شو چې څه شی دی او ناپېژندلی او مرموز اړخ نلري، پر هغه غلبه حاصلوو او پدې ترتیب قضا او قدر تدریجاً بې اعتباره کوو.
په هره اندازه چې انسان پر ده باندې د مسلطو قوانینو په اړه چې دې د ژوند او طبیعي او ټولنیزو بدلونونو په لویه لاره کې پرمخ وړي، لږ پوه وي په هماغه اندازه هم د دې ناپېژندلو او ړندو قوانینو په وړاندې، عاجز او ((مجبور)) او اسیر وي. د دې مقرراتو په پوهیدو او نه د هغوی د رد او انکار سره دی چې انسان رښتونی ازادئ ته رسیږي.
دا قوانین کولی شو په دوو ځانګو وویشو: طبیعي او ټولنیز قوانین. دلته د دې مجال نشته چې د دې دواړو ځانګو په هکله مفصلې خبرې وکړو. یوازې دا اشاره کوو چې ټولنیز قوانین پخپله د انسانانو د عملي فعالیتونو زیږنده دي، خو طبیعي قوانین د انسانانو پیدایښت نه وړاندې هم موجود ول. د دې ترڅنګ د دې دوه ډولو قوانینو ترمنځ د نژدې اړیکي له شتون نه هم انکار نشو کولی.
باید پوه شو چې طبیعي قوانین له پېژندل کیدو مخکې او وروسته یو شان موجود دي او یوشان عمل کوي، منتها له پېژندل کیدو وروسته د انسان په خدمت کې راځي او عمل یې د انسان په ګټه تمامیږي. مثلاً وړاندې

لدې چې نيوټن د کښش (جاذبې) قانون کشف کړي هغه وخت هم اسماني اجرامو د جذب خاصيت درلود خو انسان پرهغې پوه نه و او ډير زيانونه يې ليدل او اوس چې هغه يې پيژندلي، فريمانه ګټې ترې وړي چې يادول يې لازم ندي.
سمه به وي ووايو چې علم له کوم نوي او ناموجود شي څخه خبرې نه کوي. مخکې زموږ نه شيان وو او زموږ پوهه په هغو کې ريښه لري. موږ د علم په واسطه هغه او دهغوی اړيکې مومو، کشف کوو او پخپل خدمت کې يې راوړو. حتا کولی شو د دې هم مخکې لاړ شو او ووايو: په نړی کې اختراع امکان نلري. مثلاً مګر مخکې د اديسن نه د الکتريسته ځواک او پدې ځواک کې د خاصو شرايطو لاندې د رڼا د توليد خاصيت وجود ندرلود؟

****************************

تراوسه د طبيعت د قوانينو کوچنی برخه پيژندل شوی ده. علم هره ورځ د مضاعف چټکتيا او نه ستومانه کيدونکې هلې ځلې سره د نورو قوانينو په لټه کې دی. هرڅومره چې انسان لاډير قوانين کشف او هغه په کار واچوي، په همغه اندازه ژوند يې هوسا، سوکاله او خوندي او بې ويرې او انديښنې وي. د انسان د نوع د بقاء او برترۍ رمز د هغه په همدې اګاهانه ځلند کې نغښتی دی.
البته دلته مو منظور هغه نارامتيا او ناامنۍ او ويره او انديښنه نده چې ټولنيزو قوانينو پورې اړه لري لکه د جګړې او انسان وژنې او بمب او جاسوسۍ او زورواکۍ او ښکيلاک او ديوالي کيدنه او ولږه او بيکارۍ او داسې نورو څخه ويره او انديښنه درلودل. دلته د انديښنې او ناامنۍ نه منظور هغه انديښنه او ناامنۍ ده چې د طبيعت د ځواکونو نه پيدا کيږي.
البته پر ټولنيزو قوانينو د پوهيدنې له لارې هم کولی شو داسې ناامنيو او انديښنو ته د پای ټکی کيږدو چې دلته يې د بحث ځای ندی.
کولی شو د ځمکې د جو د هاخوا او پر نورو اسماني اجرامو د واکمنو قوانينو د پيژندو له لارې او د اړين چمتووالي په ايجادولو سره د ځمکې له حد واوړو او پر ليرې پرتو ستورو ګام کيږدو. هيڅ ليرې نده چې هلته د ځمکې د تمدن نه سل چنده ځلانده تمدنونه ومومو. هيڅ ليرې نده چې د اسمان په ليرې پرتو کې داسې يوه کره ومونډل شي چې مثلاً د غنمو د کرلو ښه شرايط ولري. پداسې حالت کې داسې ستورې چې يو وخت د ((بدې طالع او نحوست او بدمرغی)) منشاء ګڼل کيدله، د انسانانو د ژوند او هوسايني سرچينه وګرځي.
بده به نه وي چې دې مسالې ته هم اشاره وشي چې انسانان د قوانينو او د هغوی د عمل قلمرو پيژندلو سره په وړاند وينې لاس پورې کوي. مثلاً نن نو هر نيازبين پوهيږي چې اوبه په اور توديږي او خوټيږي.
دا پخپله کولی شي د بلې مقالې موضوع شي.

****************************

**وروستۍ خبره دا چې:**

د هر عمل موخه د هغه علم پر قلمرو د واکمنو قوانينو پيژندل او وروسته په عملي ژوند کي د هغه قوانينو کارول دي. البته دا تعريف د طبيعي علومو په خير، په ټولنيزو علومو کي هم شامليږي.

**او لا وروستۍ خبره دا چې:**

د لاښه او لاخوشاله ژوندون لپاره د طبيعي او ټولنيزو قوانينو پيژندل سل په سلو کي اړين دي.

---

* په اروپا کي د حکمت بهير – دويم ټوك

**"د لمر جوړښت" کتاب، ۱۴۷ مخ